# کوهاټ کښې د باچا خان مېموريل لائبرېرۍ قيام

فېروز خان صادق

کوهاټ يو تاريخي او تهذيبي ښار دے چې تل د علم او ادب مرکز پاتې شوے دے. د وخت تېرېدو سره ئې د ملک د نورو ښارونو په شان د ترقۍ مختلف پړاوونه سر کړل او په کال نولس سوه دوه اتيايم کښې ورته د پخواني ګورنر جنرل (ر) فضل حق په دور کښې د ډويژن درجه ورکړې شوه او ورسره مختلفې سرکاري محکمې او ادارې هم په وجود کښې راغلې او دغسې کوهاټ د جنوبي سيمو يو مرکزي ښار وګرځېدو. د دې نه وړاندې هم ټولې ضروري محکمې موجودې وې چې پکښې د تحصيل ميونسپل ايډمنسټريشن د سپورې لاندې قائمه جناح ميونسپل لائبرېري هم شامله وه. دا هغه تاريخي وداني وه چې نۀ صرف د لائبرېرۍ کار ئې کولو بلکې د کوهاټ د ټولو ادبي او ثقافتي دستورو مرکز هم وۀ او د ملک د ګوټ ګوټ نه به د پښتو او اردو شاعران اديبان دلته په مشاعرو کښې د برخې اخستو دپاره راتلل او بيا چې کله مشهور شاعر او اديب او صحافي مرحوم ايوب صابر د دې لائبرېرۍ لائبرېرين وټاکلے شو نو بيا خو دا وداني لائبرېري کمه او کميونټي هال زيات واقع شو. هر وخت به د شاعرانو اديبانو ډلې ډلې تلې او راتلې. اخر ايوب صابر د هال نه يو طرف ته په يوه تنګه کمره کښې مېز کرسۍ کېښودل چې د عامو لوستونکو مطالعه کښې خلل نۀ پرېوځي. خو کله چې ۱۹۸۹ کښې ايوب صابر وفات شو نو ورسره دا لائبرېري هم د زوال ښکار شوه.

په ۲۰۰۵ کښې حکومت فېصله وکړه چې جناح ميونسپل لائبرېري ورانه کړې شي او د دې په ځائے يو کمرشل پلازه جوړه کړې. د حکومت د دې فېصلې خلاف د کوهاټ شاعرانو اديبانو او علم دوسته خلقو اواز پورته کړو خو دا اواز د صحرا چغه شوه او حکومت دغه لائبرېري ورانه کړه او د هغې په ځائے ئې جناح ميونسپل پلازه تعمير کړه او دا لوظ ئې وکړو چې په دغه پلازه کښې به يوه لائبرېري هم وي خو هر کله چې پلازه جوړه شوه او پکښې باقاعده کاروبار شروع شو نو يو ځل بيا شاعرانو اديبانو احتجاج وکړو چې په پلازه کښې لائبرېري ولې نشته نو د ضلعې او تحصيل حکومتونو بيا مختلفې حيلې او بهانې جوړې کړې او دغه شان لائبرېري له منځه لاړه. په دې دوران کښې به کله په پخواني کمشنر هاؤس کښې کله د کوهاټ آرټس کونسل په دفتر کښې عارضي لائبرېرۍ کار کولو خو هر کله چې په ۲۰۰۸ کښې په ملک کښې انتخابات وشو او د هغې په نتيجه کښې په صوبه کښې د عوامي نېشنل پارټۍ حکومت راغلو او په وفاق کښې ئې د پي پي پي سره اتحاد وکړو نو دا د کوهاټ د خلقو خوش قسمتي وه چې د اې اين پي په ټکټ يوه علم دوسته او غريب پروره زنانه مېرمن خورشيد بېګم د قامي اسمبلۍ ممبره غوره کړې شوه. دا د هغه کورنۍ سره تعلق لري چې تل ئې د باچا خان په يوه اشاره سر په تلي کښې ايښے دے. د اقتدار د راتلو سره سم دې مېرمن په کوهاټ کښې يو مطبوعاتي کانفرنس

وکړو او د کوهاټ د ټولو مسئلو تفصیلي جائزه ئې واخسته او بیا ئې د دغو مسئلو هوارولو دپاره خپل لائحه عمل هم اعلان کړو. په دغو مسئلو کښې یوه مسئله د لائبرېرۍ د قیام هم وه. په دغه موقعه خورشید بېګم لوظ وکړو چې په کوهاټ کښې به یوه جدیده لائبرېري جوړولې شي.

د نن نه تقریباً دوه میاشتې وړاندې د دې غرض دپاره دوه کروړه روپۍ پنګه جاري کړې شوه او بیا ئې په مۍ دوه زره نهۀ کښې د کمپني باغ سره نزدې ریسکیو ۱۵ سره چې د ښار په منځ کښې واقع ده او د عوامو د تګ راتګ او ناستې پاستې ځائے دے په خپله مېرمن خورشید بېګم په باقاعده توګه د لائبرېرۍ د کار پرانسته وکړه او نوم ئې ورله «باچا خان مېموریل لائبرېري کوهاټ» کېښودو. په شپږ شپېتۀ مرلې رقبه مشتمله دا جدیده لائبرېري ټولې اسانۍ لري چې ورسره به د ایوب صابر په نوم یو کمیونټي هال هم جوړولے شي او دغسې هغه کار چې د کوهاټ منتخبو نارینه نمائندګانو، وزیرانو، د ضلعي انتظامیې، ناظمانو، افسرانو او نورو متعلقه مشرانو د لاسه نۀ وۀ شوے یا ئې قصداً نۀ کولو د اې این پي د یوې زنانه ممبرې د لاسه ترسره شو. په دې وجه د کوهاټ پوهه خلق دا خبره کوي چې د پخواني ګورنر سید افتخار حسېن شاه نه پس کۀ چا د کوهاټ د ترقۍ دپاره کار کړے دے نو هغه به مېرمن خورشید بېګم وي ولې چې په لږ وخت کښې د کوهاټ ګڼې مسئلې دوي هوارې کړې او په زیاتو ترقیاتي منصوبو کار روان دے.

مېرمن خورشید بېګم چې کله د باچا خان مېموریل لائبرېرۍ کوهاټ بنیادي تیږه کېښوده او په باقاعده ډول ئې د دې تعمیر شروع کړو نو د دې نه ثابته شوه چې د باچا خان مرحوم د پارټۍ ممبران او کارکنان علم دوسته او عوام دوست دي، هغوي لکه د خپل بابا د خپل قوم بچې د علم په کالو ښائسته کول غواړي او دوي له د ټوپک په ځائے قلم او کتاب ورکول غواړي. د پښتو ژبې او پښتون قوم سره وفاداري او دوي له د ژوند په هر مېدان کښې ترقي ورکول خپل منشور ګڼي او رښتیا خبره دا ده چې مېرمن خورشید بېګم د دې اقداماتو تر سره کولو سره د کوهاټ د ټولو خلقو زړونه ګټلي دي چې څرګندونه ئې په مقامي اخبارونو او مجلو کښې د لیکلو شوو اداریو او مضامینو نه کېدے شي.

د مېرمن خورشید بېګم د کورنۍ یو بل امتیاز دا دے چې د صحافت په ذریعه ئې هم د خپل اولس اواز اعلي حاکمانو ته وخت په وخت رسولے دے او تر ډېره وخته پورې ئې د عوامي خدمت په جذبه د «تحقیق» په نوم هفته وار اخبار هم خور کړے دے. دغه شان د سماجي کارونو کولو په حېث هم خپل یو شناخت لري، په هره سخته کښې اولس سره اوږه په اوږه ولاړ پاتې شوي خلق دي. د مېرمن خورشید بېګم دا اقدام د هغې خلقو په مخ څپېړه ده کومو چې جناح لائبرېري ورانه کړې او په هغې ئې پلازه تعمیر کړې ده او د خلقو د بیا بیا غوښتنو باوجود ئې د دې لائبرېرۍ د جوړولو نه ډډه کړې ده.

د کوهاټ د قامي اسمبلۍ دې غړې چې په کوهاټ کښې د باچا خان مېموریل لائبرېرۍ او ایوب صابر کمیونټي هال د جوړولو د کار کومه پرانسته کړې ده هیله کېږي چې دغه لویه منصوبه به په خپل وخت سر ته ورسولے شي او ډېر زر به د کوهاټ شاعران، ادیبان او علم دوسته طبقه د دې اسانو نه استفاده وکړے شي. نن کۀ د کوهاټ خلق

یو طرف ته په دې لویه کارنامه مېرمن خورشید بېګم ته عقیدت او پېرزوئنې وړاندې کوي نو بل خوا ورته د ((دختر کوهاټ)) خطاب هم ورکوي او په یوه خُلهٔ وائي چې:

کهٔ د زلمو نه پوره نهٔ شوه
فخر افغانه جینکۍ به دې ګټمینه